# د پیر محمد کاکړ د فکر اسلوب او شعري مقا م

**Poetic rank and ideological elegance of Peer Muhammad Kakar)**

شاه بانو*

ډاکټر فیض الله خان♦

**Abstract:**

Pir Muhammad Kakar was born in 1160 Hijri in Killi Yaqooba, southern Pahstoonkhwa and died before 1230 Hijri. He studied in Kandahar and was a famous poet of the time. The scholar tries to elaborate the various aspects of Pir Muhammad kakar's Poetry. His poetry consists of ethical, philosophical and Tsawuf. The poetry of Pir Muhammad is influenced by Rehman Baba. He got much fame in poetry and reached to the climax in poetry.

**Key words:** Pir Muhammad Kakar,Pashto poetry,Balochistan, Pashto literature.

پیر محمد کاکړ په کال ۱۱۲۰ هـ ق کال کښې په سهېلي پښتونخوا په یعقوبه نومي کلي کښې زېږېدلی دی. او په ۱۲۳۰ هـ ق د مخه وفات شوی ؤ. د هغه د شاعري مجموعه ددیوان پیر محمد کاکړ په نامه دی چې په دیوان کښې د ژوند په اړه په هر اړخېزه شعرونه وئیلي دي. دیوان په لومړي وار د کابل پښتو ټولني په ۱۳۲۵ هـ ل کال کښې چاپ کړی دی. تصحیح او مقاله او مقدمه ئې عبدالرؤف بېنوا کړې ده د اورېدونکو د خُلې خبره ده چې د دهٔ د لاس لیکلی دیوان ئې له عبدالکریم بریالي سره په کور کښې پروت دی د تعلیم نوري زدکړې ئې په کندهار کښې کړې وې.

پیر محمد کاکړ د دین و مذهب لوئ عالم او عملي صوفي ؤ د هغه په شاعري کښې د دیني او اسلامي شاعري اړخ ښکاره دی هغه تصوفي شاعري هم کړې ده. د مذهبي او اسلامي شاعري ثبوت د هغه په دیوان کښې موجوده دی. د دهٔ ټول دیوان د عشق د میني او د نور احساساتو نه ډک ښکاره کېږي وېنا ئې داسي خوږه او د سوز نه ډکه ده چې د خپل دور یو شاعر هم نه دی پر رسېدلی. د تصوف اشعار ئې په خپلو اشعارو کښې په ښهٔ اندازه وئیلي دي. د پښتو ژبې په لوړو شاعرانو کښې ځان ځائ کړی دی.

د تصوف په اړه زموږ عالمانو خپلي نظرئې او وېناګاني داسي وړاندي کړي دي.

"حضرت جنېد بغدادي رحمته الله علیه وائي:

تصوف دا دی چې ته له خلګو واوړې او له خدای جل جلاله سره تعلق ونسې.

حضرت ممنو رحمته الله علیه وائي:

* Mphil Scholer,Department of Pashto, UOB.

♦ Professor,Deparment of Pashto,UOB

تصوف دا دی چې نه ته د څه شي مالک دی او نه یو شی ستا مالک وي." (۱)
"حضرت م تعش رحمته الله علیه وائي:
تصوف د غوره اخلاقو مجموعه ده.
حضرت ابوالحسن نوري رحمته الله علیه وائي:
تصوف د علم او فن نوم نه دی د اخلاقو د مجموعې نوم دی." (۲)

پیر محمد کاکړ په خپل شاعري کښې تصوف بیان کړی دی کلام ئې د خپل علم د نورو ښۀ شاعرانو په رنګ پوخ او له کیراقه ډکه دي ده اولنیو شاعرانو په رنګ په د جانان وصال او هجران لاره اختیار کړی ده. خو د نورو معاصر او پښتنو شاعرانو په رنګ د ختیځ ادب په دغه مضمون کښې هم قلم چلولی دی د نورو صوفي شاعرانو په رنګ د وحدت الشهود او د وحدت الوجود لاره تعقیبوي د صوفي په حېث د دۀ په شعرو کښې صوفیانه زړورتیا لیدل کېږي. د یو عالم شاعر په حېثیت ئې ځان په دغه مسلک خبر کړی دی ډېر شاعران د دۀ پوهي او استازي مني، د دیني او اسلامي ښۀ عالم په حثیت ئې د دۀ له نامه سره د ملا نوم راوړل شوي دی.د دۀ له نامه سره د ملا نوم حنان بارکزي راوړی دی. لکه څنګه چې حنان بارکزی په یو شعر کښې وائي:

"د اخوند ملا پیر محمد ګفتار که واورې
هر ګفتار ئې دی په مثل د بلبل" (۳)

د تصوف د مرچلو نه خبر ؤ. پیر محمد کاکړ ټول عمري پاک حجر تیر کړ په خپله برخه قانع ؤ د الله پاک د وحدانیت قائیل ؤ. د موضوعاتو له پلوه د پیر محمد کاکړ شعر د ژوند هر اړخیزه عکاسي کوي د تصوف د شاعري خصوصیات ئې په حمد و نعت او تصوف و حقیقت کښې داسي وړاندي کړي دي.

لکه چې وائي:

"الهي توفیق د حمد و د ثنا را
په ثنا کښې کښې تر بلبل ژبه ګویا را

ګهي خوف ګهي رجا پیشه زوما کړه
ګهي ماته ژړا ګهي خندا را

په دنیا کښې چه رحمت د کل عالمه دی
په عقبٰی کښې هم هغه رسول پیشوارا" (۴)

"دریغ ولیدای رخسار د محمدﷺ
سترګي جار کړای تر دیدار د محمدﷺ

براقونه که څه حوري که غلمان دي
همېش دوی کړي انتظار د محمدﷺ

که قلم دی که دا لوح که کرسي ده
بېل هر یو شو بنده ور د محمدﷺ

لمر، سپوږمۍ که کواکب که سیاره دي
طواف کاندي پر دربار د محمدﷺ

سره ګلونه د جنت دي غوړېدلي
هوسېږي په جويبار د محمدﷺ

درست عالم ئې کړ پیدا د دۀ له نوره
خدای ته ډېر دي اعتبار د محمدﷺ

ملائیک ئې هم ثنا کوي د ګلو
مدام ګرځي پر ګلزار د محمدﷺ

و جمال ته ئې حیران د یوسف روح دی
حساب نه لري انوار د محمدﷺ

و لبانو ته ئې شهد نه رسېږي
عجب خوږ دی ګفتار د محمدﷺ

ازادي به په دوه کونه هغه مومي
په کمند وي ګرفتار د محمدﷺ

حلیم خوی د محمد ﷺ زما یادېږي
ژړوي مي دار مدار د محمد ﷺ

ګناهګار ئې امیدوار د شفاعت دی
خلاص په روی شي صد هزار د محمد ﷺ

په یمن ئې چنګ زدن کړه "پیر محمده!
درومه ته پر سمه لار د محمد ﷺ "(۵)

**عشقي شاعري:**

په شاعري کښې د عشق او محبت د خوږو او ترخو حالت ئې بیان کړی دی چې پښتو ژبه ئې بې انتهائي خوږه کړې ده په کلام کښې عشقیه احساساتو برخه ئې زیاده ځرګنده ده. د دهٔ په عشقي شاعري کښي د میني، محبت، درد، جذبه د جفا او وفا موضوګاني ئې په اثر ناک انداز څېړلي دي. د دهٔ په کلام کښي دا خوبي موندلی شي چې عشقي شاعري کښي دغه د محبوب په ستاینه د ښکاره کولو کښي ځان نه ورکوي. د دهٔ د شاعري حجاز او انجام ئې حقیقت دی خو حقیقي عاشقان ئې ښهٔ شان داسي وینا کړې ده. لکه چې وائي:

"زړهٔ مي بند کړ د غمونو په قفس تا
نیمه خوا مي د طوطي کړ نن هوس تا

د وصال له بره تاو برته راوړم
بې تکبیره د ماهي وکیښ نفس تا

یاد کړه هغه وقت چې تماشا کړه ما و تا
یا د ګل خندا وه یا خندا کړه ما و تا

غم د ببلتانه و حوا له پر نورو خلقو
تل به په خلوت کښي مشغولا کړه ما و تا

راز د محبت مو پټ ساته له غمازانو

یخ به په خبرو سره خوا کړه ما و تا

تاته ګل حیران و بلبل ما وته دلبره!
ډېره یو ځبله چې وفا کړه ما و تا

اشفته لکه مجنون کړم د یار زلفو
کناره له خلګو ګرځم پر صحرا

شا تر خوارېه "پیر محمد" د صنم کېږم
پورته نه کړي راته هیڅ سترګي شهلا" (۶)

"د غماز په غمازي وېشتلی نه یم
ژړوي مي همېشه د جلو علا ستا

لږ نظر د مرحمت پر عاشق بویه
مجنون راغی و دربارو ته لیلا ستا

دار مدار چې د رنځور نه کړې طبیبه!
رب دي روغ "پیر محمد" نه کړي په دوا ستا

روح د تن په قفس بند شو نه خلاصېږي
چې حاصل د ښو نیازمنو کړي حضور

په هجران کښي د ګلرخ له انتظاره
مردمک مي شو د زړهٔ په وینو سور"(۷)

"هر طرف چې ئې د عشق په تاب پخېږم
زړهٔ مي هسي شوک باب سینه تنور

یو ساعت د هجر سخت تر ځکندن ؤ
ببلتانه مي کړ درست عمر په ضرور

روغ به زړۀ د "پیر محمد" په مرهم څه شي؟
چې پرهار ئې له جورونو شو ناسور

اندېښنو د تورو زلفو سودائي کړم
د صنعان په دود مي سر تر زنار وکینښ

په تش خیال د مخ ئې ژیړه ګونه ګرځم
دې افتاب راڅخه نم د رخسار وکینښ

له چشمانو چې مي خیال د جانان ولېښ
خراب دل زما په غم د هجران ولېښ

لا تر څو بې غمه خواب کړې "پیر محمده!"
چې له تا د ښو نیازمنو کاروان ولېښ"(۸)

**اخلاقي شاعري**:

اخلاقي شاعري د ادب هغه درنه برخه ده چې ډېر ارزښت لري هغه برخه د پیر محمد کاکړ د اخلاقیاتو وېنا د شعر په ژبه لوړ مقام ته رسولې ده. چې د انساني ژوند پر هغه اړخ چې له ښو او بدو سره اړه لري. خو ده د اخلاقیاتو پر موضوع دومره وئیل کړي دي. چې تر ده ورستو نورو شاعرانو نه دي څېړلي. اخلاقي شاعري یې هم ډېر جامعه ده. د خوږو خوږو صلاحیتو او نصیحتونو نه ډکه ده د انسان عملي ژوند او فکر پوهي له ځینو هم ډېر اړخونو سره اړه لري چې نصیحت پکښي په ډېره ښکلي فنکارانه انداز سره شوی دی د انساني ژوند په هر دور کښي د هر چا دپاره اهمیت او ارزښت لري او د درس ورکولو کښي یې اخلاقي کردار ادا کړی دی. په اخلاقي شاعري کښي ئې د صبر و قناعت، افسو، مجازي، حقیقي، مذهبي، شکوه داسي نور ډېر مختلف اړخونه دي چې پیر محمد کاکړ نظر په اچولی دی .په وېنا کښي د پښتو زړورتیا مضبوطه والی ډېر غالب ښکاره کېږي د اخلاقیاتو وېنا ئې په شعرو کښي داسي کړې ده:

پیر محمد کاکړ پر خپل قناعت نازېږي د شعر په ژبه وېنا داسي کوي لکه چې وائي:

"هر چې ګنج د قناعت لري په زړهٔ کښې
که فقير تر پير محدم وي خوار به نه شي

بد خوئ نفس تمر د در څخه څو کړي
په لجام د قناعت ئې شه مانع

همېش صبر پر محنت درلره ښايي
دا دارو دي هر مرض لره کانع

پټ عمل د "پير محمد " پسي مهٔ ګوره
و ګفتار ته د عالم اوسه سامع

"جفا کار زما دلبر شه درېغ درېغ
وفا نه کړي ستمګر شه درېغ درېغ

محبت مي زړهٔ نازک لکه کاغذ کړ
بيا هر غم لره محضر شه درېغ درېغ

له درباره ئې نو عهد په ژړا درومم
په باران کښې مي سفر شه درېغ درېغ"(۹)

د مجازي شاعري په هکله ئې داسي وېنا په شعرو کښې کړې ده لکه چې وائي:

"چې د حسن په ګلشن کښې جانان کښېني
لور پر لور ئې خوشنوا بلبلان کښېني

څو بهار د حسن وي وفا پکار ده
بې لذته کړي مېوې چې خزان کښېني

د مژګانو په اغزبه مي اور بل کړي
په لېمه که مي له رقصه بتان کښېني"(۱۰)

د مذهبي شاعري په هکله ئې داسي وېنا کړې ده لکه چې وائي:

"زړۀ مي شو بېتاب زۀ ئې قوت په دعا غواړم
يا د يار له شونډو يا له وينو د رقيب

ګوتي چې پر نبض زما ږدي هغه پرې سوځي
ځکه مي حيران شوو علاج وته طبيب

ځو به سنګين دلو ته ژړا کړې "پير محمده!"
غور چې هيڅ نه شي په دا دور د غريب"(۱۱)

پير محمد کاکړ د شعر په ژبه په خپلو شاګردانو څه د شکوه وېنا داسي کړې ده:

"هر ساعت پر دا ګناه استغفار وايم
چېرته نه شم په دوه کونه ملام
پر دناي به نور تعليم د ناکس بس کړم
چې حجت راباندي نه شي په قيامت"(۱۲)

**د فکر اسلوب:**

د اولنيو شاعرانو و شاعري ته چې په پښتو ادب کښي د کوم شاعري مکتب نوم ورکړل شوی دی د هغه سبک په خصوصياتو کښي لوړ تخيل نادر تشبيهات، صنتونه باريک بيني لفظي او معوني اشعارو کښي اهم توکي دي. له دې ماسوا د موضوعاتو په حواله د ژوند ژوره مشاهده او مطالعه ئې درلوده. پير محمد کاکړ هم د دغه سبک غړی دی او د خيال فکر او د شعري جوړښت په حواله ئې د رحمٰن بابا او خوشحال بابا پېروي کړې ده. د پير محمد کاکړ په شاعري کښي د فارسي او عربي اثرات پکښي راغلي دي د پښتو ژبي نازک خيال باريک بين شاعري ده. د عصري لفظ و معني او فن په تړون او اهمت ځائ په ځائ خپل تصورات او نظريات ئې په شعر کښي ښکاره کړي دي له شعرونو ئې دا انداز کېدلی شي چې د دې سبک د فن د نظرئې سره مطابقت والی لري.

پير محمد کاکړ د کلام ښائست او خپل لوړتيا دپاره د تشبيهات توري هم ضرور په خپله استعمال کښي راوړي دي د دې عناصر ئې د خپل اسلوب و ضاحت ئې د شعر په تخليق کښي د زړۀ غور و فکر داسي کړی دی:

"دار مدار له عاشقانو سره ښۀ دي
د بادشاه چې ښۀ لښکر نه وي هم هيڅ

په سرو شونډو پښتو تاښو چې خندا کا
که نثار لعل و ګوهر نه وي هم هيڅ

په اشنا پسي ژړا کړه "پير محمده!"
د مين چې تيمه ترنه وي هم هيڅ"(۱۳)

پير محمد کاکړ ادبي سبک ته چې نظر وکړې د دۀ په وختو کښي بله داسي ښۀ شاعري په نظر نه راځي چې داسي روان، سليس، اسان الفاظو کښي سوزنازک اشعار ئې وئيلي وي. د دۀ په وختو کښي بل چا داسي اشعار نه دي وئيلي. او نه ئې درلودل. د دۀ سبک د درو لويو شاعرانو تر نظر لاندي روزل شوي دی خو ډېر ډېر په رحمان بابا پسي روان دی ده ته د يو مستقل سبک خاوند وئيلی شو. دی پخپله هم رحمان بابا ډېر لوړ ستائي تر خوشحال خان بابا ئې هم لوړ ګڼي. د دوئ پر اشعارو پر هر يوه باندي خورا دقيقه تبصره کړې ده .د رحمان بابا په هکله ئې د شعر وېنا داسي کړې ده. لکه چې وائي:

"که هر څو وائي نازک شاعران شعر
ولي دوئ ګڼي معجز د رحمان شعر"(۱۴)

پير محمد کاکړ د رحمان بابا د اشعارو پېروي د الف، ب په رديف کښي د خپول اشعارو وېنا داسي راوړې ده:

لکه رحمان بابا چې وائي:

"که صورت د محمد ﷺ نه وای پيدا
پيدا کړې به خدائ نه وه دا دنيا

ورقونه لټوم د هر مکتوب
په کښي غواړم خال و خط د خپل محبوب

ما خو نۀ دی څوک بې وجهي ازار کړی
دا چې ما ازاروي ازار د چا دی

د دلبرو صدقې لره ئې غواړم
هسي نه چې په دنيا پسي زهير يم

تا چې صبح د پرې سترګو د اهو کړی
نه پوهېږم چې اهو ئې که جادو کړی"(۱۵)

پیر محمد کاکړ د دې شعرو په رڼا کښې ا لاړ داسې تعقیبوي.

پیر محمد کاکړ:

"اول نور که د رسول ﷺ نه وای پیدا
روښنائي به پیدا نه وه پر دنیا

قلم اخلم په هجران کښې د محبوب
تل د زړهٔ په وینو کښم د غم مکتوب

ما خو جور ستم نه و پر چا کړی
پر ما ولي ستمګار دی یار زما

چې د یار دپاره نه وي څه په کار دی
که په کور کښې زرغون بوټی د کیمیا کا"(۱۶)

د پیر محمد کاکړ شاعري د خوشحال خان خټک د شاعري سره ډېر نږدې کېدونکې ښکاره کېږي د خوشحال خان خټک د اشعارو په رنګ به ښهٔ اشعار وئیلي دي پیر محمد کاکړ هم تر دهٔ کم نه دی پاته شوی پخپله د دهٔ په زمانه کښې د دهٔ په مقابله کښې څوک نشته. پیر محمد کاکړ د خوشحال خان خټک د شاعري په موازنه کښې ئې د شعرو سره اشعار داسې راوړي دي.

لکه خوشحال بابا چې وائي:

"که زهٔ نه وائ تا به ځان لره بلل څوک؟
په پالنګ به دي دا هسي در ختل څوک؟"(۱۷)

پیر محمد کاکړ

"که زهٔ نه وائ عشق به تا لره بلل څوک؟
پر بل اور به دي حسن کړول څوک؟"(۱۸)

خوشحال خان

"توري چې تېرېږي خو ګزار لره کنه
زلفي چې ول ول شي خو خپل یار لره کنه"(۱۹)

پیر محمد کاکړ

"زړهٔ چې شګوفه شو خو اسرار لره کنه
ژبه چې تېره شي خو ګفتار لره کنه"(۲۰)

پیر محمد کاکړ د مضمون له مخې د حمید بابا پیروي کړې ده. حمید بابا په پښتو ادب کښې د رحمان بابا او خوشحال خان خټک نه وروسته لوئ اهم استاد او شاعر ګڼلی شوی دی .د شاعري په لحاظ ډېر اوچته شاعر تېر شوی دی. د یو نوي سبک او انداز ئې ځان ته خپل کړی وي. شعري تلازماتو سره د ژور فکر او لوړ تخیل ئې د اشعارو په ژبه کښې وړاندي کړی دی. د شعر په ژبه ئې اوچت الفاظ به په شعر کښې په استعمال کښې راوړي دي. د شاعري په ژبه ئې غټ اړخونه په ګوته کړي وو. پیر محمد کاکړ هم په شاعري کښې د نازک خیالي باریک بیني ئې د شعر په ژبه کښې له دهٔ نه اخذ کړې ده.که ئې د چا پېروي کړې وي خو په بشپړه توګه د خپل سبک خاوند هم دی. پیر محمد کاکړ د حمید مومند له اشعارو سره دا لاندي الفاظ په خپلو اشعارو کښې ئې په ډېر ښهٔ انداز ئې په استعمال کښې راوړي دي:

وڼۀ، پنډه، حیف، ټوک ټوک:

حمید مومند

"لکه ښکار د ډېرو سپو په خوله کښې کښېوځي
فرقتونو مي زړهٔ هسي کړونډه وڼۀ"(۲۱)

پیر محمد کاکړ:

"له ازله مي په برخه د عشق غم شو
په قسمت راسره راغله هسي وڼډه"(۲۲)

حمید مومند:

"اندېښنه مي د هجران شوه په زړهٔ پنډه
ځکه سارا څخه خېژي لنډه لنډه"(۲۳)

پیر محمد کاکړ:

"مبتلا چې سیه چمتو کړ سحر
خلاص به نه شي پیر محمد د دوی له پنډه"(۲۴)

حمید مومند:

"هزار حیف دی هزار حیف دی بي مهره یاره!
ستا په دا ننګ و ناموس په دا پتونه"(۲۵)

پیر محمد کاکړ:

"نقد به مي د عمر د حباب په لاس رانه شي
حيف دي چې تېرېږي بې تا ياره همېشه"(۲۶)

حميد مومند:

"لکه ګل د باد له مخه پاڼي پاڼي تار په تار شي
اه فرياد مي خاطر هسي پرِوکی پرِوکی کا ټوک ټوک "(۲۷)

پیر محمد کاکړ:

"ما چې واخست له بيمارو سترګو دوک
خسته دل مي په کوګل کښي شو ټوک ټوک"(۲۸)

**شعري مقام:**

پیر محمد کاکړ په پښتو ادب کښي د رحمان بابا خوشحال خان خټک او د حمید بابا نه وروسته لوئ نامداره شاعر ګڼلی شو. ځکه ئې شاعري کښي خپل ادبي او شعري مقام څرګند کړی دی. هغه ته د خپل شاعرانه معيار او مقام احساس پخپله هم شوی ؤ. تر ده راوروسته شاعرانو لکه د دۀ شاګردانو براهيم کاکړ او شمس الدين ورته ښۀ فاضل عالم پوه شاعر وئيلی دی.

پیر محمد کاکړ پخپلو شعرونو کښي خپل شعري ادبي مقام ئې ښودلی دی. خو د رحمان بابا خوشحال بابا او حميد بابا د دې همعصرو شاعرانو د اعتراف شعرونه ئې په دې ډول وئيلي دي. د دوئ د اشعارو صفت ئې داسي کړی دی.

د رحمان بابا په هکله وائي:

"که هر څو وائي نازک شاعران شعر
ولي دوی ګڼي معجز د رحمن شعر

جوړ په شعر کښي رحمن غيب اللسيان دی
په دا خير نشته هرګز د انسان شعر"(۲۹)

خوشحال بابا په هکله وائي:

"بل په شعر کښي هم سيال د خوشحال نسته
که څه درست دی دا د دۀ سخندان شعر

هيڅ تر شعر د رحمان په ډېر کم نه وي

وضعف ته د ختټک خوشحال خان شعر"(۳۰)

حميد بابا:

"پس له دوئ نه موشګاف عبدالحميد دی
چې ئې ووئيل ښۀ نازک نکته دان شعر" (۳۱)

پير محمد کاکړ پخپلو شعرونو کښې خپل شعري ادبي مقام ئې په شعر کښې ښولی دی. پير محمد کاکړ د پښتو ژبې له ښو او پياوړو مشهور شاعرانو سره لوړه درجه لري د قدر وړ مقام لري په خپلو همعصرو کښې تر ټولو پښتو شاعرانو ځان بهتر بولي خو خپله يو شعر کښې د ځان په حق کښې هم دۀ د انصاف رايه داسي ښکاره کړې ده:

لکه چې وائي:

" چې انصاف زۀ پير محمد کړم لاڤي نۀ کړم
په هم عصرو کښې مي خوښ دی د ځان شعر"(۳۲)

د موضوعاتو له پلوه د پير محمد کاکړ د شعر په ژبه د ژوند هر اړخيزه خيال فکر کړی دی. د پښتو کلاسيکي شاعرانو په نوم ئې نوم د يادوني وړ او کلام ئې د لوستلو وړ دی. د نورو شاعرانو په رنګ ئې د تاريخ د ثابتيدلو حبث لري په کلام کښې ئې له سوزه ډکه شعرونه ئې وئيلي دي د خپل وخت يو شاعر هم نه دی پر رسېدلی تر ډېره پوري دا حقيقت پر ځائ دي دۀ ځان له يو جدا سبق او اندزه ځان ته خپل کړی دی. چې په شعر کښې سادګي سلاست او مقانت کښې ئې له اولنيو شاعرانو سره پښه په پښه وړې ده. د هري موضوعاتو اشعار د دۀ په شاعري کښې شته. تصوفي، مذهبي، عشقي، اختلافي، جمالياتي، سخاوت، د حسد په هکله، د روغي جوړي، د خود غرض په هکله، مجازي، د رياضت په هکله، د شعريعت او معرفت د انسانيت په هکله، د خپل وطن په ياد کښې، دۀ پخپله شاعري کښې څېړلی دی. د شعر په ژبه ئې په ښۀ انداز پر کړي دي دا ټول موضوعات د دۀ د شاعرانه مقام تعايون کوي.

## حوالې

(۱): مولانا پير ذوالفقار احمد نقشبندي مجددي، تصوف او سلوک ص ۱۷
(۲): هم دغه اثر ص ۱۸
(۳):خان محمد حافظ، د کسې ګلان ص ۳۰
(۴): بېنوا د عبدالرؤف ، پير محمد کاکړ ديوان ص:۴۳
(۵): همدغه اثر،مخ۶۰، ۶۱
(۶): همدغه اثر،مخ ۵۱
(۷):همدغه اثر،مخ ۵۲، ۵۶
(۸):همدغه اثر،مخ ۶۶، ۷۵، ۷۶
(۹):همدغه اثر،مخ ۱۷، ۷۹
(۱۰):همدغه اثر ،مخ ۱۲۷،
(۱۱):همدغه اثر ،مخ ۵۴
(۱۲):همدغه اثر ،مخ ۵۵
(۱۳):همدغه اثر ،مخ ۵۹
(۱۴):همدغه اثر،مخ ۷۰
(۱۵)همدغه اثر ،مخ ۳۱، ۳۲
(۱۶):همدغه اثر ،مخ ۴۴، ۴۷، ۴۹، ۵۴
(۱۷): بتنی زی، ايم خدای نور خان، مشموله اولس کوټه فروري۱۹۶۲ ،مخ ۴۱
(۱۸): همدغه اثر ،مخ ۴۱
(۱۹):همدغه اثر ،مخ ۴۱
(۲۰):همدغه اثر ،مخ ۴۱
(۲۱): لياقت تابان، ډاکټر، د حميد او شمس الدين پر تليز جاج ،مخ ۵۴۸
(۲۲):همدغه اثر،مخ ۵۴۸
(۲۳):همدغه اثر،مخ ۵۴۹
(۲۴):همدغه اثر،مخ ۵۵۰
(۲۵):همدغه اثر،مخ ۵۵۹
(۲۶):همدغه اثر،مخ ۵۵۹
(۲۷):همدغه اثر،مخ ۵۶۷
(۲۸):همدغه اثر،مخ ۵۶۶
(۲۹): حميد الله صاحبزاده پروفېسر، د مرجانو لاړ ،مخ ۱۴- ۱۵

(۳۰)همدغه اثر ،مخ ۱۵
(۳۱)همدغه اثر،مخ ۱۵
(۳۲): بېنوا د عبدالرؤف، پیر محمد کاکړ دیوان ،،مخ ۳۲